# د کار موندنې خبرتیا

په استانبول کې د افغانستان اسلامي جمهوریت جنرال قونسلگري په ’قونسلي‘ په برخه کې یو تن سیمه‌ایز کارکوونکي ته ارتیا لري. ټولو هغه مینه‌والو ته چې په دې برخه کې د کار کولو لیوالتیا لري، خبر ورکول کیږي چې خپلې cv گانې لاندې پتې ته را واستوئ. د یادې ده چې د تقرر بهیر د آزاد رقابت له لارې ترسره کیږي. مینه‌وال باید لاندې شرایط ولري:

۱. د افغانستان تابعیت ولري او عمر یې له ۱۸ کالو کم نه وي

۲. د ترکیې هیواد د اوسیدنې رسمي سند (اقامت) ولري

۳. د تحصیل کچه یې لیسانس وي

۴. په دری، پښتو، ترکي او انگلیسي ژبو پوره تسلط ولري

۵. د بریالیتوب په صورت کې باید د جرمي نه مسئولیت پاڼه او روغتیایي سند وړاندې کړئ.

د یاد وړ دی چې ښځینه مینه‌والو ته لومړیتوب ورکول کیږي. مینه‌وال کولي شي خپلې cv گانې ***<u>د ۱۳۹۸ لمریز کال د جوزا میاشتې لومړۍ نیټې، چې د ۲۰۱۹ زکدیز کال د مي میاشتې د ۲۲ نیټې</u>*** سره سمون لري، لاندې برښنایی پتې ته را واستوي: finance.istanbul.af@gmail.com